مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد نعمان دوست
۲۰۲۱/۱۱/۰۳

# خپله جنازه

وتى له خپل كوره، مرور يم چيرته شپه وكړم؟
بندي دروازې شوې، اوس د چا كور ته ناره وكړم؟

ونه كې ماران ځانګي، چينې په غاړه پړانګ ويده
ستړى يمه، تږى يمه، خدايه څه چاره وكړم !؟

ما د ګاونډي ښيينه په كاني ماته كړې ده
پلاړ سره مې لښته ده، اوس وايه څه پلمه وكړم؟

خلک وئ، سپوږمى پنځلسمه ده شغلي كوي
زه خو نا بينا يمه، زه څنګه ننداره وكړم؟

ما سجده ونكړه، ما سلام قيام كې وكړځو
ډير يم ويريدلى، مجبور خپله جنازه وكړم

مور يې پر سره تنده لاس تير كړ او په چيغو شوه
اى زويه! بې تا په كور كې څنګه ګوزاره وكړم؟

ژبه يې راته پرې كړه، اتكړى يې را نه خلاصې كړې
څنګه به اوس زه د دې وحشت چاته كيسه وكړم؟

محمد نعمان دوست، جلال اباد
د وري ۱۶مه، ۱۳۹۴



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ